مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نورمحمد لاهو

۲۰۲۶/۱۱/۲۱

په تاخچه کې هیر غمی

مخه ښه!
کله د چا په خوښه نه وي
ځینې وخت سړی مجبور شي
له خپل ځانه څخه بیل شي
او خپل زړه
د وختونو په تاخچه کې
لکه مات غمی
تر دوړو لاندې هیر کړي
او له هغو
چوپتیاو څخه لاړ شي
چې کلونه یې
د زړه سوې جونګړه وه نیولې
ځینې وخت سړی مجبور شي
هغه ګل نه
خپلې تږې ګوتې پرې کړي
چې خوشبو یې
په رګو کې اوسیدله
بنیادم!
کله غواړی
له دې ټولې دنیا بیل شي
د شیشې غوندې
د کانړو شرشرو لاندې ویده شي
کله غواړي
!لاړ شي
لاړشي!
لاړشي دومره لیرې
څو په ټکي را بدل شي
مګر

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

وروسته وروسته په دې پوه شي
چې څومره لیرې لیرې ځان نه تللی
هومره ځان ته نژدې شوی
هماغومره لکه وینه
یوځای شوی
دخپل یار د مخ د ګل په رنګ کې
ای آسمانه! غواړم پوه شم!
جدایی په
حقیقت کی
د وصال!
رښتینی نوم دی؟

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ